انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۲/۲٤

# سمه تأریخ لیکنه

## او د تأریخي لیکنو سمه ارزونه

دوهمه برخه

ما یوځو موده پخوا (دری ـ څلور کاله د مخه) د کوم تأریخ لیکونکی د یوه کتاب په مقدمه کی چی د دویم نړیوال جګړی د پېښو په هکله یی لیکلی و داسی یو جمله لو ستي او د ځان سره می یاداښت کړیده :

« یو شاهد په محکمه کی سوګند یادوی او وایی چی هرڅه چي وایی رښتیا وایی او بی له رښتیا څخه نور هیڅ نه وایی . ټول تأریخ لیکونکی باید د همدی شاهد په توګه سوګند واخلی تر څو تأریخ سم او د حقیقتونو په رڼا کی و لیکل شي، او همدا دی د سمی تأریخ لیکني تر ټولو لومړی اصل .» دا که څه هم یوه تیوری او نظریه ده او په عمل کی تطبیق یی دومره اسانه خبره نه ده خو د بل راتلونکی نسل د پاره په تأریخی پېښو باندی د حقیقتونو د پېژندنی د کار سره ډیره مرسته کوی او په باوری دلایلو ولاړی تأریخي لیکني، د ځینو خاصو اړیکو د په نظر کی نیولو له مخي د لیکل شوو تأریخي آثارو سره د پرتله کیدو په ذریعه ځانګړ تیا مومي او د تیرو وختونو یو سم او ریښتونی تصویر راتلونکو نسلونو ته په مخکی ږدی. با احساسه او رښتیا لیکونکی تأریخ پوهان او د تأریخي پېښو ثبتونکی اشخاص زیار باسی چی د واضح ،روښانه او څرګندو باوری اسنادو په راټولیدو او د پېښو د اصلی او مهمو لاملونوپه پیژندلو او میندلو سره هره تأریخی موضوع داسی وڅیړی چي لوستونکو ته د پوښتنو په ځای د قناعت کولو زمینه برابره کاندی. د مثال په توګه که د یوه تأریخ لیکونکی په توګه له تاسو نه و غوښتل شي چی د ده او یا هغه واکمن د بریاو او ناکامیو په هکله د تأریخ اسنادو له مخي خپل نظر وړاندی کړې ، نو له دی کار نه باید ډه ډه وکړې چي هغه څه چی سمدستي ستاسو په ذهن کی د کومي خاصی اړیکي او سمپاتی له مخي را ګرځي و لیکئ او د نوموړی شخص په لسګونو کمزوریو او ناتوانیو باندی چی حقیقت لری سترګي پټي کړی. لومړی په دی هکله ډیر فکر وکړی چی ایا نوموړی شخص په ریښتیني سره په کومو کومو برخو کی بریاوی ترلاسه کړیدی او د دی بریاوو لوی لاملونه کوم دی؟ د دی بریا وو اندازه د هغو امکاناتو سره اړخ لګوی چی د دی شخص په لاس کی وو او کنه؟ ایا دی شخص چی دابریاوی تر لاسه کړی او تاسوله نظره بریا معلومیږی د نورو د پاره هم بریا بریښی او کنه؟ که بریښي دلیل یی څه دی او که نه بریښي د لیلونه یی څه دي؟ که چیری تاسو د یوه ریښتونی تأریخ لیکونکي په څیر عمل کولي شی نو دا ډیره اړینه ده چی تاسو تر ټولو د مخه بریاوی په سمه توګه تعریف کړی او وګوری چی د نوموړی شخص د



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

بریالیتوبونو په نتیجه کی د ده وطن او دده وطنوالو ته څومر ګټه رسیدلي او د ده دملت د اوسیدونکو په ژوندانه کی یی کوم مثبت بد لونونه را منځ ته کړیدي؟ ایا دا بریاوی هغه څه دی چی په او که داهغه څه دی چی د نوموړی شخص په فکر کی ګرځیدلي دی، د په عمل کی پیلي شویدی

واکمن دا بریاوی چی تاسو یی وړاندی کوی د یوی لنډې مودی د پاره په تولنیز حالت کی بدلون را وستي او که د اوږدی مودی د پاره تری ګټه اخستل شویده؟ د یوه مورخ د پاره د هغه د ژوندانه د وخت د پیښو هسی لیکنه او ثبت چی په حقیقتونو ولاړه وی دومره سخت کار نه دی، ځکه دا حقیقت پلټونکی مورخ او لیکوال په ډیرو کمو هلو ځلوسره کولای شی چی د پیښو د رامنځه ته کیدو په هکله د صادقو عیني شاهدانو په مېندلو بریالی شی او واقع شوی پیښه د حقیقی فاکتونو په بنیاد ثبت کاندی. خو که زمانه تیره شی او وروستی نسلونه بیا غواړی چی د تیروشوو پیښو په حقانیت باندی و پوهیږی نو دا په یقین سره چی ډیر ستونزمن کار دی او په هیڅ وجه د هرچا کار نه دی. د تیرو پیښو د ریښتینوالی څرګند ونه پراخي مطالعي، څیړني او د مشخصي پیښي په هکله د بیلا بیلو لیکونکو د لیکلو آثارو سمي لوستني او سمي ارزونی ته اړتیا لری چی دا توان یوازی په خاصو او کمو مسلکی کسانو کی وجود لری، ډیر داسی هم لیدل شویدی چی مسلکی تأریخ پوهانو او مورخینو هم په ځین خاصو مواردو کی ستری تیر وتنی کړیدی او نور دی ته مجبورشویدی چی دوی خپلو تیر وتنو ته متوجه کاندی، د مثال په ډول زمونږ ځنی مشهور مورخین د اعلیحضرت غازی امان الله خان په وړاندی د ګوډ ملا (ملای لنګ) فتوا او د اماني نهضت په وړاندی لمسوني یو ملی قیام او پاڅون ګڼی ، حال داچی دا داسی یوه تیر وتنه او نا سمه ادعاده لکه څوک چی د لمر پرځای د رڼا منبع سپوږمۍ و بولي. مونږ مخکی اشاره وکړه چی د مستقلي تأریخي لیکني نه د نورو په لیکنو د نظر ورکونه او دهغې سمه ارزونه ستونزمنه ده، خو دلته ځني ځانګړي اصول شته چی د هغې له مخی د څیړني په کار کی اسانتیاوي را منځ ته کوي. امریکایی مورخ ریچارد ویلکنسن د تأریخی آثارو د سمي ارزوني د پاره دا اسانتیاوی داسی را وښائي. « پخوا له دی چی د مورخ لیکی اثر ولولئ تر هغی د مخه د مورخ په هکله معلومات تر لاسه کړې مثلاً مورخ څومره علمي زده کړي کړیدی؟ څومره نور لیکلی آثار لری؟ هغه په خپلو آثاروکی په څه شی باندی ډیر فوکس کړیدی؟ په جنسیت، په توکم، په سیاست، په کلچر، په مذهب، په اقتصاد او که په کوم بل څه؟ که چیر ي تاسو تر ټولو د مخه د مورخ د لیکلی اثر ټیپ او ډول ومونډلو نو بیا په اسانی سره کولای شي چی د مشخصی موضوع په هکله د حقایقو په رڼا کی شخړي او مناقشي ته ادامه ورکړی او لیکل شوی اثر سم وارزوئ.» همدارنګه نوموړی مورخ د سمی ارزونی د پاره داسی سپارښتنه کوی:« په لیکل شوی اثر کی د لیکونکی له خوا د پیښي د پیښیدو په هکله وړاندی شوي دلایل په ژوره توکه تر مشاهدی لاندی راولئ، ترڅو ومومی چي دا دلایل په حقیقتونو ولاړ دی اوکه په روایتونو؟ که چیری د لیکونکی وړاندی شوی دلایل ستاسو له نظره ریښتونی وی او که غیر حقیقی وی تاسوپه دواړو صورتونو کی د سمي ارزوني دپاره مجبور یاستی چی هم د هغه د لیکنی د تائید اوهم د رد په باره کی خپل ځانګړی د لایل او هغه اخذونه چی تاسو تری په خپله لیکنه کی ګټه اخستي ده نورو لوستونکو ته وړاندی اوپه روښانه توګه تشریح کړی.» همدارنګه ویلکلینسن تاکید کوی چی «په یوی تأریخی لیکني کی ممکن ځني داسی دلایل موجود وی په حقایقو تکیه ولری او ځني بیا ممکن نقلی او روایاتی دلایل وی، که چیري په مجموع کی دا اثر تاسو مثبت ارزوئ نو هغه برخي یی هم باید له پامه و نه غورځوی چی غلطئ او نواقص لری، د منفی ارزوني په وخت هم دا اصل په پام کی ونیسی.» (مارک.ا. نول) د نترو دام په پوهنتون کی د تأریخ پروفیسور یو ښه تأریخ لیکونکئ او د تأریخی آثارو ارزونکئ داسی راپیژني: « یو ښه مورخ تر هر څه د مخه باید ډیر متجسس، کنجکاو او د پوره دقت خاوند وي او په لوی

مقیاس د تیاره گوټونو او تتو صحنو د څرګندولو مهارت ولری.» نوموړي پروفیسور د عامو او عمومي هدفونو د څرګندولو د پاره د یوه ښه مورخ په هکله داټکی هم د اهمیت وړ بولی : « روښانه او واضح لیکنه، د پیچلو او مغلقو پیښو دقیقه څیړنه، د تأریخی ارزښتونو سمه شرحه او د اساطیری افسانو څخه د تأریخی پیښو رابیلونه.»

د امریکا د متحده ایالاتو یو بل تأریخ پوه (داګ سوینی) چی په متحده ایالاتو د کلیسا او عیسوی افکارو د د پارتمنت مشردی، د ښه تأریخ لیکونکی او د تأریخی آثارو د ښه ارزونکی په هکله داسی نظر لری: « ښه مورخ او د تأریخي آثارو ښه څیړونکی هغه څوک دی چی د پوره حوصلی خاوند وی، مینه ناک وی، د ژوندانه د پرمختګ په رمزونو بلد وی، د ژوند او خلکو سره خواخوږی ولری،په نورو زمانو او نورو ځایونو کی دانسانی ژوندانه د ښستونو سره بلدتیا ولری، د پیښو او مسائلو جزئیاتو ته د پاملرني مهارت ولری، په منطق سره خپل اوریدونکی او لو ستونکی خپل استدلال ته راجلب کړاي شي، دښه درک، ښي پوهي او ښه تحلیلی مهارتلرونکی وی او بلاخره تأریخی متنونه په سمه توګه تعبیر او تفسیر کړلی شي.»

د نیو یارک د سنت جونز د پوهنتون د تأریخي زده کړو پروفیسور ( ناومی پیري) د ښه تأریخ لیکونکي په هکله داسی نظر لری : « ښه تأریخ لیکونکي پراخه مطالعه کوی، ژوره څیړنه کوی، د پیښو د حقانیت او ثبوت د پاره وړاندی شوی د لایل او شواهد د آزمویني لاندی نیسي او خپلې ټولي پوښتني د همدی وړاندی شوو دلایلو پر بنیاد طرحه کوی او بیا د پیښي د حقانیت او یا عدم حقانیت په هکله نورو ته خپله کیسه په څرګندو کلماتو او د پوهیدلو په وړ جملو کی وړاندې کوې. یو ښه مورخ د مجملو، بی ربطو اوبی معنی جملو له لیکلو نه ډه ډه کوی او زیار باسی چې خپله لیکنه په ښکلو ، مهذبو او ټکان ورکونکو جملو او کلمو کی نورو ته د موجه او منطقي دلایلو سره یو ځای وړاندی کړی.» نوموړی تأریخ پوه په دی خبره ډیر ټینګار کوی چی هره لیکنه خصوصاً تأریخی لیکنه باید داسې وشي چې له پیله نه تر پای پوری د منطقی استدلال له پولو نه ونه وځي ، دویمه جمله تر لومړی او دریمه تر دویمی او په همدی توګه تر آخره پوری یوه د بلې نه ښکلي او هیجاني وی. دئ وایي :

« تأریخ یوه کیسه ده ، هسي کیسه چې د جدی تفکر ، پوهي، هیجان او مهذبو کلمو او ښکلو جملو څخه جوړه شوی ده. دا کیسه هله ډیره خوندوره کیږی چې د حقیقت سره مله روانه وی»

(توماس ج نیتلیس) په متحده ایالاتو کی د ادیانو د تأریخ پروفیسور د ښه تأریخ لیکونکي په هکله خپل نظر په لاندی توګه بیانوی:

ــ یو ښه تأریخ لیکونکی باید تر هرڅه د مخه په دی باوري وی چی تیره زمانه په حال کی په داډ منه توګه د صحت او سموالی په لوړه کچه کی د بیا کتنی او ارزونی وړده.

ــ یو ښه مورخ باید په ځینو وختونو کی د الهی مقدراتو له مخی د ځینو بدو او ناوړه پیښو په مخنیوی او منځ ته راتلو کی د بخت او اغبال او له بد بختی او کم بی اغبالی له تائیدولونه ویره ونه لری، ځکه ټولي تصادفي ښی او بدی پیښي په تقدیر او نصیب بوری اړه لري.

ــ یوه ښه مورخ باید مصمم وی او تر هغه وخته خپلو څیړنو او سمو تحلیلونو ته ادامه ورکړی ترڅو هغې نتیجي ته ځان ورسوي چې د حقیقت میندلو د پاره یی ورته کار پیل کړیدی.

زموږ افغاني ټولنه ،اوس د بل هر وخته نه د حقایقو پلټني ته زیا ته اړتیا لری ، ځکه زموږ د خلکو ویاړني او ستری قربانی په ډیره لویه کچه، هم د لویو قوتونو له خوا، هم د ګاونډیو هیوادونو له خوا او هم په وطن کی دننه د ځینو مزدورو، پردیو پالو ، ځان غوښتونکو، خرڅو شوو حلقاتو او اشخاصو له لوری، د ناسمو تأریخی لیکنو او ناسمو

ارزونو نه ناوړه ګټه پورته کوی او زمونږ د وطن وياړلو غازيانو، نوم ورکو شهيدانو، ملي اتلانو او نوميالیو وطن پرستانو په ادرس له خپلو نا پاکو خولو نه هسی، بی اساسه او له ځانه جوړ شوي دلايل وړاندی کوی چی په څرګنده توګه د تأريخ د مسخه کیدو هلي ځلي دی. نو دا ماته ګوده ليکنه می ( که څه هم په دی برخه کی مسلکی نه یم ) د دی له کبله وکړه چی د وطن پیاوړی تأريخ ليکونکی او د تأريخي پيښو څيړونکی بايد دی ستر او با ارزښته کار ته کلکه او سمه پاملرنه وکړی او په خپلو څيړنو کی د هر نا پوه ، متعصب، احساساتی او رنځور شخص په ليکنه او بی منطقه دليل باندی د حقيقت د پيژندلو او څرګندولو د پاره تکيه ونه کړی، ځکه د ناپوه په دليل باندی تکيه په اسانئ سره د هر پوه پوهنيز او تولنيز شخصيت ته زيان رسوی او د حقايقو په پيژندلو کی د ده د قوی ، مستند او منطقی استدلال په سموالی باندی باور له منځه وړی. د مارچ /۲۰۱۶/۱۷

د تأريخي پيښو د ليکونکو د کاملي ايمانداری په هيله. انجنير کليوال.